مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوڅ مرادزی

۲۰۲۳ / ۰۱ / ۰۷

# يو ماښام

چې يو تت شانته ماښام وي
ډکې ډک د ميو جام وي
ياران ټول سره وي جمع
زوړ ساقي پکې امام وي
شونډې ډکې له موسکا وي
هر نظر کې يو پيغام وي
يو تر بل غاړه غړی وي
د يوه وجود اندام وي
مينه مينه کې کلام وي
دا وختونه چې مدام وي
+++
د نري لښتي پر غاړه
شنه جلګه وي د کبلو
د جلګې په څنګ کې واړه
کېلی [(١)] ډکې وي له ګلو
لښتی هسې مست بهيږي
لکه بار اوښ چې شنيږي
د څپو د زړه له تله
اوري دا يوه غونډله [(٢)]
چې اوبه ژوند له څپو کړي
څپې هم ژوند په شپېو کړي
+++
د جلګې خوا کې زغار وي
کباب ايښی وي پر اور
ورسره د رباب تار کې
يو غزل وي پرې راسپور
محفل تود لکه تنور وي
لا توديږي پسې نور
په خندا، کړسا خبرې
د جامونو شورماشور
څوک نڅا کړي څوک اتڼ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولـئ

مست او ګرم ټنګ ټکور
+++
خپل وطن وي هجر نه وي
کړاو نه وې زجر نه وي
خپل دې ولس وي، خپل دې کلی
هرڅوک خپل ځای کې ښاغلی
نه رټلی، نه ده ګلی
وې په زړونو کې منلی
دا که خیال هم وي، نعمت دی
یو ماښام هم غنیمت دی
**یادوونه:**
(۱) کبرۍ: له کر ــ کبلې څخه اخیستل شوی. کبلی یا کبری یا کوراړی کوچني پټې ته وایی چې معمولاً ګلان یا ترکاري پکې کرل کیږي.
(۲) غونډ- له یعني جمله.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ